آيا ستاسو څخه يو څوک دا خوښوي چې کله خپل کور ته راستون شي نو په هغه کې درې لويې اوښې چې ښې څربي وي مومي؟

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايې چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «آيا ستاسو څخه يو څوک دا خوښوي چې کله خپل کور ته راستون شي نو په هغه کې درې لويې اوښې چې ښې څربي وي مومي؟» مونږ وويل: هو. ويې فرمايل: نو په تاسو کې چې يو څوک په لمانځه کې درې آيتونه ولولي د هغه لپاره له درېو لويو څربو اوښانو څخه غوره دي».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم بيانوي چې په لمانځه کې د درېو آيتونو لوستلو ثواب لدې څخه غوره دی چې يو څوک په خپل کور کې درې لويې، څربې او بلاربې اوښانې مومي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65053